# د قبر معامله آسانه نه ده

**25-February-24**

د شبِ براءَت د اجتماع بیان

(for Islamic Brothers)



## د شبِ براءَت د اجتماع بیان

(15 شعبان، 1445 ھ، 25 فروري 2024ء، د اتوار او د ګل ترمينځه شپه)

# د قبر معامله آسانه نه ده

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ..

- ... د دوزخ نه د خلاصي شپه
- ...د اووه سرونو والا خطرناک مار
- ... د قبر د عذابونو وحشتناک منظرونه
- ... قبر د جنّت باغ یا د دوزخ کنده
- ... قبر روښانه کوونکي کارونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

يو بزرګ تير شوے دے: شيخ ابو حفص كاغذي رحمۃ اللہ علیہ. هغوئي چې كله وفات شولو نو يو څو ورځې پس يې خپل دوست له په خوب كښې تشريف راوړلو، دوست ترينه پوښتنه اوكړه: څه حال احوال دے؟ په قبر كښې درباندې څه تير شول؟ اوئې فرمائيل: په ما ډير لوئي كرم اوشو، واقعه څه داسې اوشوه چې كله زه په قبر كښې دفن كړے شوم نو منكر نَكِير (يعنې په قبر كښې پوښتنه كوونكې فرښتې) راغلې، هغوئي زه كښينولم او تپوسونه يې رانه شروع كړل، په دې كښې د **الله** پاک فرمان راغلے: اے فرښتو! اودريږئ...!! فرښتې اودريدلې. بيا حُكم اوشو: د دې بنده ګناهونه اوشميرئ! فرښتو زما ګناهونه اوشميرل، بيا خو زه ويريدم چې د دومره ګناهونو باوجود به زه څنګه بخښلے كيږم. بيا فرښتو ته حُكم اوشو: دې بنده چې په دُنيا كښې زمونږه په **محبوب** صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم باندې كوم درود شريف لوستلے دے، اوس هغه اوشميرئ! فرښتو زما لوستلے شوے درودِ پاک اوشميرلو. د خوش قِسمتئ نه زما لوستلے شوے درودِ پاک زما د ګناهونو نه زيات وو. نو فرښتو ته حُكم اوشو: اے زما فرښتو! هُم دومره حساب كافي دے. **دا بنده زما جنّت ته**

بوځئ! (یعني د ده قبر د جنّت باغ جوړ کړئ!) (1)

| | |
|---|---|
| ذات والا په بار بار درود | بار بار اور بے شمار درود |
| بے عدد اور بے عدد تسلیم | بے شمار اور بے شمار درود(2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُرُود شریف د کثرت یو برکت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ځومره ښکلې خبره ده، د درودِ پاک کثرت کول د قبر د حساب نه، د قبر د عذاب نه، د منکر نکیر د سوالونو نه د نجات حاصلولو بهترینه وظیفه ده! **الله** پاک دې مونږ ته په کثرت سره د درودِ پاک لوستلو توفیق راعطا کړي. خواجه ضیاءُ الدِّین رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکي: کوم بنده چې نیک نـمونځ ګزاره وي او په کثرت سره درودِ پاک لولي، چې کله هغه مړ شي او قبر ته کوز کړے شي نو منکر نَکِیر (یعني په قبر کښې پوښتنه کوونکې فرښتې) د هغه نه معمولي حساب اخلي، بیا د هغه قبر د نظر تر حده پورې فراخه کړے شي، قبر په نُور باندې روښانه شي، بیا په دې کښې د هغه جنّتي بي بي قبر ته را اورسي، د هغې په غاړه د ملغلرو امیل وي، چې ځنګه دا بنده د هغه امیل طرف ته اشاره اوکړي نو امیل اوشلیږي او پریوځي، د هغه جنّتي بي بي وائي: د پریشانئ خبره نه ده، مونږ به دا ملغلرې راټولې کړو. دا دواړه په شریکه ملغلرې راټولوي. **بس دوئي به لا هغه ټولې ملغلرې نۀ وي راټولې کړې چې قیامت به قائم شي.** (3)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د درودِ پاک په برکت سره د قبر د تنګئ نه هُم نجات

1...القول البدیع، الباب الثانی فی ثواب الصلاۃ علی رسول اللہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ:124۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ:123-125 ملتقطاً۔
3...برکاتِ درود، ص:17۔

حاصلیږي، د هغه ځائے ویره او تنهائي هم لرې کیږي او د قبر په زرګاؤ کاله قیام هُم په یو څو ساعتونو کښې تیریږي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته هم په کثرت سره د درودِ پاک لوستلو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.

| | |
|---|---|
| نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو | مُحِبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر درود پڑھو |
| جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیش تر درود پڑھو(1) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. [2]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو!** په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ! د بیان اوریدو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ په اَدب به کښینم ❀ ښه په توجُّه به بیان اورم ❀ څه چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو!** ❀ نن د شَعبَانُ الْمُعَظَّم پینځلسمه شپه ده یعنې شَبِ براءَت دے ❀ نن د ډیرو برکتونو والا ❀ عظمتونو والا ❀ خیرونو والا شپه ده ❀ په ننئ شپه دُعاګانې قبلیږي ❀ رزق تقسیمیږي ❀ او د ټول کال د رزق فیصله په ننئ شپه کیږي. **په حدیثِ پاک کښې دي:** چې کله د شعبان مینځنئ (یعني پینځلسمه) شپه

---

[1] ...نورِ ایمان، صفحہ:56-57 بتقدم وتاخر۔

[2] ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

راشي نو په هغه شپه قيام (يعني عبادت) کوئ، د ورځې روژه نيسئ، بے شکه په دې شپه د نـمر پريوتو سره **اللہ** پاک د خپل شان مطابق په آسمانِ دُنيا باندې تجلي فرمائي او ارشاد فرمائي: ❁ اَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ لِیْ فَاَغْفِرَ لَہٗ شته څوک زما نه بخښنه غوښتونکے چې زه هغه مُعاف کړم ❁ اَلَا مُسْتَرْزِقٌ فَاَرْزُقَہٗ شته څوک رزق غوښتونکے چې زه هغه ته رزق عطا کړم ❁ اَلَا مُبْتَلًی فَاُعَافِیَہٗ شته څوک پريشانه چې زه د هغه پريشاني لرې کړم، **شته څوک** داسې، شته څوک داسې، د سحر د نـمر راختو پورې هُم داسې اِعلان کيږي. [(1)]

## د دوزخ نه د خلاصي شپه

**اللہ** پاک دې مونږ ته د نيمې شپې د قدر کولو توفيق رانصيب کړي. د **حديثِ پاک** مطابق په دې شپه د بَنُو کَلب د چيلو د ويښتو د شميرې برابر ګنهګاران د دوزخ نه آزادولے شي، [(2)] بَنُو کَلب د عرب يوه قبيله وه، **په کتابونو کښې ليکلي دي:** دې خلقو به ډيرې زياتې چيلئ ساتلې. [(3)]

آج کی رات نہ غفلت میں گزاری جائے | رَبِّ اکبر کی کرو حمد وثنا آج کی رات

سُبْحٰنَ الله! د يوې چيلئ په بدن باندې څومره ويښته وي، څوک يـې شميرلے شي؟ معلومه شوه چې په نيمې شپه په زرګاؤ، لکونو بلکې په کروړاؤ خلق بخښلے شي خو لس بدبخته داسې دي کوم چې په دې شپه هُم نه بخښلے کيږي: **(1):** د شرابو عادت لرونکے **(2):** د مور پلار نافرمانه **(3):** د زنا عادت لرونکے **(4):** رشتې ماتوونکے **(5):** تصوير جوړوونکے **(6):** او چغل خور. [(4)] **(7):** نجومي **(8):** جادوګر **(9):** په تکبر

---

1 ...ابن ماجه، كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها، باب ماجاء فی ليلة... الخ، صفحه:225، حديث:1388-

2 ...شعب الايمان، باب فی الصيام، ماجاء فی ليلة النصف من شعبان، جلد:3، صفحه:384، حديث:3837-

3 ...مِرقاة المفاتيح، كتابُ الصَّلاة، باب قيام شهر رمضان، جلد:3، صفحه:339، تحت الحديث:1299-

4 ...فضائلُ الْاَوقات، باب فی ليلة النصف من شعبان، صفحه:33، حديث:36-

سره پاجامه یا پرتوګ د ګیټو نه ښکته ساتونکے **(10):** د مسلمان سره د شرعي اجازت نه بغیر بغض او کینه لرونکے (یعني په زړۀ کښې پټه دښمني ساتونکے) هُم په دې شپه د بخښنې د سعادت نه محرومه پاتې کیږي. [1]

| | |
|---|---|
| مغفرت کا ہوں تجھ سے سُوالی | پھیرنا اپنے دَر سے نہ خالی |
| مجھ گنہگار کی التجا ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے |
| نارِ دوزخ سے مجھ کو اماں دے | مغفرت کر کے باغِ جِناں دے |
| کر دے رَحمت مری التجا ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے(2) |

الله پاک دې د دې برکتي شپې په برکت زمونږ د ټولو د بخښنې خیرات نصیب کړي. ✿ د رښتوني توبې توفیق دې رانصیب کړي ✿ د ګناهونو نه نفرت دې رانصیب کړي ✿ د نیکو کثرت دې رانصیب کړي ✿ د الله پاک او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا دې په ننئ شپه زمونږ د ټولو نصیب شي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اوسپنې مخ لرونکے کَس

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې یوه عبرتناکه واقعه واورو او عبرت حاصل کړو. حضرت مَرثَد بن حَوشَب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: زه د حضرت یوسُف بن عَمرو رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په خدمت کښې حاضر شوم، د هغوئي سره په خوا کښې یو داسې عجیبه کَس ناست وو چې د هغه د مخ څه حصه د اوسپنې وه. هغه کَس خپله واقعه بیان کړه او اوئې وئیل: زما د ځوانئ ورځې وې، یو ځل زمونږه په علاقه کښې طاعون بیماري راغله (خلق ترې

---

1 ...آقا کا مہینا، صفحہ:11-
2 ...وسائل بخشش، صفحہ:136 ملتقطاً-

مړه کيدل)، ما سوچ اوکړو چې زه قبرونه کنستونکے جوړېږم. نو ما په قبرونو کنستو لاس پورې کړو. يو ځل د ماښام او ماسخُتن ترمينځه وخت وو، ما قبر اوکنستو او تيار مې کړو او هُم په خوا کښې ورسره کيناستم. په دې کښې جنازه راغله، مونږه مړے ښخ کړو، د پاسه مو پرې خاوره واچوله او ټول خلق خپلو خپلو کورونو ته لاړل. زه لا اوس هلته موجود ووم چې په دې کښې د اوښ په شان قد لرونکې دوه سپينې مرغۍ راغلې او د هغه نوي قبر خوا ته راکوزې شوې. يوه مرغۍ د هغه سر ته وه او بله يې د ښپو اړخ ته وه. هغه دواړو قبر اوکنستو او يوه مرغۍ قبر ته دننه کوزه شوه. زه ډير حيران ناست ووم او دا ټوله واقعه مې ليدله. هغه مرغۍ هغه مړي له يوه زوروره څپيړه ورکړه او اوئې وئيل: **تهٔ هُم هغه يې چې کله به سخرګنۍ کره تللې نو ښکلې جامې به دې واغوستې او په تکبر به دې په زمکه راښکلې؟** هغه مړي چغې کړې: آه...!! زه د دې د برداشت کولو توان نه لرم. په دې کښې هغه مرغۍ دومره زوروره څپيړه ورکړه چې مړے وِيلې شو او په قبر کښې اوبهيدو، بيا هغه بيرته خپل اَصلي حالت ته راوستے شو، مرغۍ بيا اووئيل: **تهٔ هُم هغه يې چې کله به سخرګنۍ کره تللې نو ښکلې جامې به دې واغوستې او په تکبر به دې په زمکه راښکلې؟** دا يې اووئيل او هغه بيا يوه زوروره څپيړه ورکړه، هُم داسې يې هغه درې ځله اُووهلو.

په دې کښې هغه مرغۍ زه اوليدم او خپلې ملګرې مرغۍ ته يې اووئيل: **اللّٰه** دې دے رُسوا کړي، ده ته اوګوره! دے چرته ناست دے. دا يې اووئيل او ما له يې هُم يوه څپيړه راکړه. دومره زوروره څپيړه وه چې زه ټوله شپه بے هوشه ووم. سحر چې کله په هوش کښې راغلم نو هلته نهٔ هغه مرغۍ وې او نهٔ په قبر کښې څه ښکاريدل. هغه نوے قبر هُم د عامو قبرونو په شان ښکاريدو. دا زما د مخ چې کوم حالت تاسو وينئ، دا د هغه مرغۍ د څپيړې اثر دے. (1)

---

1...موسوعہ ابن ابي الدنيا، كتاب القبور، جلد:6، صفحہ:75-79، رقم:98۔

## په سخرګنئ کښې د تکبر نه بچ کيږئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له لږ غور کول پکار دي چې دا څومره سخت عذاب وو، يوه څپيړه دومره زورروره وه چې مړے يې وِيلې کړو او اوبهيدو، بيا به هغه خپل مخکښنيني حالت ته راوستے شو، بيا به څپيړه ورکړے شوه. ياد ساتئ! د قبر عذاب حق دے، **الله** پاک دې مونږه د قبر د عذاب نه اوساتي. (آمين) مونږ له د ځان په باره کښې سوچ کول پکار دي چې **الله** دې نه کړي! که چرې مونږه داسې اُووهلے شو نو آيا مونږ به يې برداشت کړے شو؟ هيڅکله هم نه، څومره د سخت تکليف خبره به وي...!! دا عذاب چا له ورکولے کيدو؟ **هغه بنده له څوک به چې د سخرګنئ کره په تکبر سره تللو.**

**الله** پاک دې مونږه د دې بدئ نه په اَمان کښې اوساتي، تکبر ډيره سخته ګناه ده، حرام دے، (1) دوزخ ته بوتلونکے کار دے. د بعضې خلقو عادت وي، چې کله د سخرګنئ کره ځي ❁ نو د هغوئي نخرې بدلې وي ❁ بے وجه نخرې کوي ❁ د خوراک ❁ څښاک وغيره معاملو کښې خبرې کوي ❁ د ځان د پاره د خصوصي انتظامونو مطالبه کوي، دا ښه خبره نه ده او که داسې رويه د تکبر په نيت وي نو بيا خو سخته ګناه ده. ځکه مونږ له پکار دي چې ❁ که سخرګنئ وي او که خپل کور وي ❁ که دُکان وي او که دفتر وي ❁ که کلے کوڅه وي او که بازار وي غرض که مونږ هر چرته هم يو، نو پکار ده چې د تکبر نه ځان بچ ساتو، صرف او صرف عاجزي اختيار کړو، په عاجزئ اختيارلو به زمونږه اوچتوالے [يعنې عِزَّت] نصيب کيږي. **په حديثِ پاک کښې دي:** څوک چې د **الله** پاک د پاره عاجزي کوي **الله** پاک هغه ته اوچتوالے عطا کوي. (2) د دې برخلاف به **الله** پاک د قيامت په ورځ تکبر کوونکي ذليله او رسوا کړي. **په**

---

1... فتاویٰ رضویہ، جلد:23، صفحہ:614۔

2... مسلم، کتاب البر والصلۃ والآداب، باب استحباب العفو والتواضع، صفحہ:1002، حدیث:2588۔

**حدیثِ پاک کښې دي:** د قيامت په ورځ به تکبر کوونکي په انساني شکلونو کښې د میږو په شان پورته کولے شي، د هر طرف نه به په هغوئي باندې ذلت راخور وي، هغوئي به د دوزخ د **بُولَس** نومي قيد خانې په لور زغلولے شي او ډير غټ وور به هغوئي په خپله ولقه کښې واخلي او په هغوئي باندې به غالب شي، په هغوئي باندې به **طِيْنَةُ الْخَبَال** يعنې د دوزخيانو نوونه [وِينې زَوې] څښلے شي. [(1)]

| | |
|---|---|
| خُوب انساں کو کرتی ہے رُسوا | جب زباں بےلگام ہوتی ہے |
| گر تکبّر ہو دِل ذرّہ بھر | سُن لو جنّت حرام ہوتی ہے |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## چې څه کَرې هغه به رِيبې

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** مونږه دې دُنيا ته راغلو، بيا به مونږه ضرور مړه کيږو، قبر ته به هُم کوزيږو او چې څه مو کړي وي د هغې بدله به هُم راکولے کيږي. که مونږه هر څومره منډې ترړې اوکړو، که په زرګاؤ کوششونه اوکړو، چې هر څومره اوتښتو، خو مونږ به د خپلو اعمالو نه خلاصے حاصل نکړے شو، مونږ ته به د خپلو اعمالو بدله راکولے کيږي. **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| **كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ۙ﴿۳۸﴾** (پارہ 29، سورۃ المدثر: 38) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: هر نفس په خپلو ګټلو اعمالو کښې ګانړه ايښودے شوے دے. |

معلومه شوه چې هر انسان د خپلو اعمالو په بدله کښې ګانړه دے، څوک چې هُم په دې دُنيا کښې پيدا شو، هغه به قبر ته کوزيږي او د خپلو اعمالو بدله به ورکولے کيږي .

---

[1]...ترمذی، کتاب صفۃ القیامۃ والرقائق والورع، صفحہ:590، حدیث:2492۔

## په صندوق کښې وور بَل شو

**وائي چې:** يو بادشاه وو، چې کله د هغه آخري وخت راغے نو هغه خپل ځامن را اوغوښتل او يو عجيبه وصيت يې ورته اوکړو، اوئې وئيل: چې کله زه مړ شم نو د اوسپنې يو تابوت جوړ کړئ، بيا زما مړے په هغه تابوت کښې کيږدئ او د اوسپنې په يو صندوق کښې يې کيږدئ، بيا هغه صندوق مه دفن کوئ بلکې په يوه کمره کښې په چت پسې يې زوړند کړئ د پاره د دې چې زه د قبر د عذاب نه بچ شم (يعنې د هغه مقصد وو چې زه په قبر کښې ښخ نه کړے شم، نو د هغه تنګ ځائے د ويرې او عذاب نه به بچ شم).

چې کله بادشاه مړ شو نو ځامنو يې په وصيت باندې عمل اوکړو، د اوسپنې تابوت جوړ کړے شو، د هغې دننه د بادشاه مړے کيښودے شو او هغه تابوت د اوسپنې په يو غټ صندوق کښې کيښودے شو، بيا هغه صندوق د زنځيرونو وغيره په ذريعه په کمره کښې زوړند کړے شو او کمره ورپسې بنده کړے شوه. بيا چې کله شپه شوه نو ناڅاپه د کمرې نه آوازونه راتلل شروع شُو، ځامنو يې د کمرې په لور منډې کړې، چې دروازه يې برسيره کړه او اوئې کتل نو صندوق خوزيدو، هغوئي صندوق ښکته راکوز کړو، چې برسيره يې کړو او اوئې کتل نو حيران پاتې شول چې په صندوق کښې دننه تابوت کښې د بادشاه د مړي د پاسه يو خطرناک مار ناست دے او د هغه مخ له ټکونه ورکوي، (په ظاهره ډيره د حيرانتيا خبره وه چې صندوق ته د دننه تللو د پاره څه لاره يا څه سورے نه وو، بيا هم مار دننه څنګه لاړے...!! بهر حال!) د بادشاه ځامنو هغه مار رابهر کړو او مړ يې کړو، صندوق يې بيا بند کړو او د مخکښې په شان يې په کمره کښې زوړند کړو.

دغه شپه خو چې هر څنګه وه تيره شوه، په بله شپه بيا د کمرې نه آوازونه راتلل، ځامنو يې بيا کمره برسيره کړه، چې اوئې کتل نو صندوق خوزي، نو صندوق راکوز کړے شو، بيا يې چې برسيره کړو نو د مخکښيني نه هم غټ مار د بادشاه په سينه

باندې ناست وو، ډېر حيرانه شول، هغوئي بيا هغه مار رابهر کړو او مړ يې کړو او صندوق يې بيا بند کړو او زوړند يې کړو.

هغه دويمه شپه چې هم هر څنګه وه تيره شوه. دريمه شپه شوه، د کمرې نه بيا آوازونه راتلل، څامنو يې بيا دروازه برسيره کړه، صندوق يې راکوز کړو او چې هغه يې برسيره کړو نو (د ويرې نه ډېر وارخطا شول چې) **د اوسپنې په صندوق کښې دننه تابوت، او د بهر نه صندوق بالکل صحيح سلامت دے خو په هغه تابوت کښې دننه خطرناک وور بَليږي. دا خطرناک منظر يې چې اوليدو نو هغوئي پوهه شول چې د قبر د عذاب نه هيڅکله هم خلاصے نشته، نو هغوئي د بادشاه مړے باقاعده په قبر کښې ښخ کړو.** (1)

| | |
|---|---|
| آخرت کی فکر کرنی ہے ضرور | جیسی کرنی،ویسی بھرنی ہے ضرور |
| عمر اک دن یہ گزرنی ہے ضرور | قبر میں میت اترنی ہے ضرور |
| ایک دن مرنا ہے ،آخر موت ہے | کر لے جو کرنا ہے ،آخر موت ہے |

## برزخ څه ته وئيلے شي...؟

بادشاه د چا واقعه چې مونږه واوريدله، هغه دهوکه شو، هغه دا ګڼلې وه چې زه قبر ته نه کوزيږم نو د خپلو ګناهونو د سزا نه به بچ شم، حالانکه داسې هيڅ کله هم نه ده، برزخ خو د مرګ نه واخله تر د قيامت قائميدو پورې د وخت نوم دے، **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

**وَمِنۡ وَّرَآىِٕهِمۡ بَرۡزَخٌ اِلٰى يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ ۝۱۰۰** (پاره:18، المؤمنون:100)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ الْعِرفان: او د هغوئي مخې ته يو بند [رُکاوټ] دے د هغې ورځې پورې په کومه ورځ به چې هغوئي راپاڅولے کيږي.

---

1 ...سلوة العارفين، جلد:2، صفحه:231۔

❁ بیا که دا (یعني د مرګ نه تر قیامته پورې موده) د خاورو لاندې تیره شوه نو دا قبر دے ❁ که څوک ازمري وغیره ځناور اوخوړو نو هغه به د هغهٔ قبر شمیرلے شي ❁ که څوک په سمندر کښې ډوب شو نو هُم هغه به يې قبر ګڼلے شي ❁غرض دا چې که د مرګ نه پس انسان هر چرته هم وي ❁ چې په کوم حالت کښې هم وي، **اللّٰه** پاک دا قدرت لري چې هغه له د هغه د اعمالو جزا یا سزا ورکړي. لهٰذا عالَمِ برزخ هُم حق دے او د هغه ځائے د جزا یا سزا معامله هُم بالکل حق ده، رښتوني ده.

## عالَمِ برزخ د دنیائي ژوند نتیجه ده

اے د خوږ نبي صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو! په عالَمِ برزخ کښې مونږ.ته تر قیامته پورې اوسیدل دي، هلته به د هر چا ځائے په دې دنیا کښې د کړو اعمالو مطابق وي، څوک چې په دې دنیا کښې نیک دے، ❁ هغه ته به د برزخ ژوند کښې ❁ عزت ❁ عظمت ❁ او سکون او راحت عطا کولے شي او څوک چې په دې دُنیا کښې ❁ ګنهګار دے ❁ نمونځونه قضا کوونکے دے ❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې پریښودونکے دے ❁مور پلار خفه کوونکے دے ❁ مسلمانانو له تکلیف ورکوونکے دے ❁ ګیره خریوونکے یا د یو موټي نه کمونکے دے ❁ د سود لین دین کوونکے یا په اخستو او خرڅولو کښې دهوکه کوونکے دے، د برزخ ژوند کښې به د هغه حال ډیر خراب وي، آه! که د **اللّٰه** پاک د رحمت نه محرومه پاتې شو نو په قبر کښې يې وور هم بلیدے شي، ماران لړمان هم پکښې راتلے شي، زمونږه دا ښکلے بدن د چینجو خوراک هم جوړیدے شي. **اللّٰه** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِیْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِیْشَةً ضَنْكًا (پاره:16، طٰه:124) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: او چا چې زما د ذِکر نه مخ واړولو نو بیشکه د هغه د پاره تنګ ژوند دے. |

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائي: په دې آيت مبارک کښې د تنګ ژوند نه مُراد د قبر عذاب دے. [1] يعني ❁ څوک چې په دې دُنيا کښې ګنهګار دے ❁ څوک چې د الله پاک د ذِکر نه ❁ د قرآن او سُنَّت نه ❁ د نيکو کارونو نه ❁ د نـمونځونو روژو نه مخ اړوي، د هغه د پاره به په قبر کښې تنګ ژوند وي.

## د اووه سرونو والا خطرناک مار

صحابئ رسول حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ فرمائي: يوه ورځ د نبيانو نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلم دا آيت مبارک اولوستلو:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِیْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِیْشَةً ضَنْكًا (پاره:16، طٰه:124) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او چا چې زما د ذِکر نه مخ واړولو نو بيشکه د هغه د پاره تنګ ژوند دے. |

بيا يـې اوفرمائيل: آيا تاسو ته معلومه ده چې تنګ ژوند څه دے؟ صحابۂ کرامو رضی اللہ عنہم عرض اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم الله پاک او د هغه خوږ رسول (صلی اللہ علیہ والہ وسلم) ته بهتره معلومه ده. اوئې فرمائيل: د دې نه مُراد د قبر عذاب دے کوم چې به کافِر ته ورکولے شي. په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضه کښې چې زما ځان دے! په قبر کښې به په کافِر باندې 99 تَنِيْن مسلط کولے شي. آيا تاسو ته معلومه ده چې تَنِيْن څه څيز دے؟ دا به 99 ماران وي، په دې کښې به هر مار اووه سرونو والا وي. دغه 99 ماران به هغه له تر قيامته پورې ټکونه ورکوي. [2]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لږ غور اوکړئ! څومره خطرناک منظر به

---

1... تفسیر بغوی، پارہ:16، سورۂ طٰہٰ، زیر آیت:124، جلد:3، صفحہ:145۔

2... احوال القبور، الباب السادس فی ذکر عذاب... الخ، فصل انواع عذاب القبر، صفحہ:95۔

وي...!! د اووه سرونو والا خطرناک مار او صِرف يو يا دوه نه بلکې 99 ماران به وي، الله! الله! دا څومره خطرناک منظر دے. الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم اوکړي. يقين اوکړئ! د قبر معامله آسانه نه ده.

## قبر وړومبے منزل دے

منقول دي چې قبر هره ورځ اووه ځله آواز کوي او دا اعلان کوي: ❀اے کمزوري انسانه! ما ته د رارسيدو نه مخکښې، هم د دغې دُنيا په ژوند کښې پخپله په خپل ځان باندې رحم اوکړه! بے شکه چې کله تهٔ ما ته را اورسې نو که تهٔ د خپل رَبّ فرمانبردار وې نو زه به په تا باندې رحم کووم، تهٔ به په ما کښې خوشحالي وينې او که چرې تا په خپل ځان باندې رحم اونکړو، نو زه به هُم په تا باندې رحم نه کووم ❀(اے کمزوري انسانه!) ❀زه د لړمانانو او مارانو کور يم او د دې سره به د اوږدې مودې پورې ته شرمِنده هم يې ❀زه د ويرې او تنهايئ کور يم، د دې سره [په ما کښې] شِدَّت او سختي هم ده ❀زه د تَندې کور يم، د دې سره [په ما کښې] خطرناکه تيارهٔ هم ده ❀زه د تنګئ کور يم، د دې سره [په ما کښې] خوفناک لړمانان هم دي. ❀اے اِبنِ آدم! خبردار! تا دې د دُنيا ژوند په دهوکه کښې نه اخته کوي! بے شکه تهٔ به ما ته راځې ❀زه د آخرت په منزلونو کښې وړومبے منزل يم، که تا زما نه نجات حاصل کړو نو د هرې خوفناکې مرحلې نه به نجات حاصل کړې. ❀اے ابنِ آدم! زه د غضب ځائے يم ❀زه د چا ځلمي په ځوانئ باندې ❀د چا وړوکي په وړوکوالي باندې او د چا بوډا په بوډا والي باندې رحم نه کووم. آؤ! آؤ! زه په هغه باندې رحم نه کووم څوک چې پخپله په خپل حال باندې رحم نه کوي. (1)

قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار | مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار

1...بُستان الواعظین، عظۃ للنبی، صفحہ:154۔

| | |
|---|---|
| یاد رکھ میں ہوں اندھیری کوٹھڑی | تجھ کو ہوگی مجھ میں سُن وَحشت بڑی |
| میرے اندر تُو اکیلا آئے گا | ہاں مگر اعمال لیتا آئے گا([1]) |

## ګمنام نصیحت کوونکے

حضرت سلمه بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: یو ځل یو ګس په یو ځائے تیریدلو، هغه یو قبر اولیدو، هغه قبر ډیر ښکلے جوړ کړے شوے وو. د هغه ګس د قبر ښکلے جوړول (یعنې د قبر د پاسه لګیدلي کاښي وغیره) ډیر زیات خوښ شو. هغه اودریدو او ډیر په حیرانئ سره یـې ورته کتل. چې کله شپه شوه، هغه اوده شو نو په خوب کښې یو ګس راغے، هغه ورته په نصیحت کښې د عربئ دا شعرونه اووئیل:

| | |
|---|---|
| اَعۡجَبَكَ الۡقَبۡرُ و حُسۡنُ الۡبِنَاءِ | وَ الۡجِسۡمُ فِيه قَدۡ حَوَاهُ الۡبَلٰى |
| فَاسۡئَالِ الۡاَمۡوَات عَن حَالِهِم | يَنۡبَاكَ عَن ذَالِك ذِهَابَ الۡجَلٰى |

وضاحت: تهٔ قبر او د هغې ښکلي جوړولو حیران کړې خو په دې کښې دننه کیښودے شوے بدن په آفتونو او بلاګانو کښې ګیر دے، د مړو نه د هغوئي د حال پوښتنه اوکړه! هغوئي به تا ته اووائي چې د هغوئي عزت او شان چرته لاړے...!! (2)

الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا حقیقت دے چې که د بره نه قبر هر څومره ښکلے جوړ کړے شي خو د هغې په دننه حال هغه پوهیږي څوک چې په هغې کښې دننه موجود دے.

## د قبر معامله آسانه نه ده

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه به په خپلو سترګو د خلقو مرګ لیدلے وي خو یاد ساتئ! مړه کیدل آسان نه دي ❁ مونږه به په خپلو لاسونو باندې مړي ته کفن

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:711-712ملتقطًا۔
[2]..موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب القبور، جلد:6، صفحہ:120، رقم:267۔

اچولے وي، خو اغوستل يـې آسان نه دي ❁ مونږ به جنازې له اوګه ورکړې وي خو د جنازې په ګټ کښې څملاستل او په څلورو اوګو باندې اوچتيدل آسان نه دي ❁مونږ به ډير خلق قبر ته کوز کړي وي، ياد ساتئ! قبر ته کوزول آسان دي، خو قبر ته کوزيدل آسان نه دي. معامله واقعي چې ډيره زياته ګرانه ده. لږ تصور خو اوکړئ! لکه څنګه چې د مالوچو په ډيري کښې ازغنه څانګه کيښودلے شي او په يو چک راښکلے شي، که داسې زمونږ د بدن نه رُوح راښکلے شي، چې زمونږ د بدن هره حصه په درد او تڪليف کښې شي، تڪليف هم څنګه...؟ د زرو [1000] تورو د ګُزار نه هم زيات سخت...!! بيا په دې خراب حالت کښې زمونږه د حال پوښتنې والا هم څوک نه وي، زمونږه ❁مور پلار ❁ اولاد ❁ خوئيندې ورونړه ❁ خپل خپلوان ❁ زمونږه نازونه ورونڪي زمونږ د ګټ سر ته ولاړ وي ❁ او څوک هُم زمونږه مدد نشي کولے ❁ ټول به ګوته په خُله پاتې شي ❁ مونږه به چا ته خپل غم هم نشو بيانولے، آه! زمونږ نه ګير چاپيره به چغې سورې وي او مونږه به د چا سره خبرې هم نشو کولے ❁ زمونږه مال ❁ زمونږه دولت ❁ زمونږه بينک بيلنس ❁ زمونږه ګاډې ❁ زمونږه محلونه ❁ زمونږه بنګلې ❁زمونږه طاقت او قوت ❁ زمونږه عهدې او منصب ❁ زمونږه ډګريانې هر څه به هم داسې پاتې شي ❁ زمونږ د بدن نه به اغوستې جامې هم لرې کړے شي ❁ خالي کفن به راته واچولے شي ❁ بيا به زمونږه مينه وال ❁ نازونه ورونڪي ❁ پخپله په خپلو اوګو باندې مونږ اوچت کړي او په تنګ او تيارۀ قبر کښې به مو څملوي ❁ په خپلو لاسونو باندې به راباندې خاورې واړوي او واپس به لاړ شي ❁ مونږه به د هغوئي د قدمونو آواز اورو خو مونږ به هغوئي ته غږ نشو کولے، آه! ❁ دا تڪليف کوم چې مخکښې کله هم نه وو رارسيدلے ❁ داسې تنهائي د کومې سره چې مونږه کله هم نه يو مخ شوي ❁ داسې ويره چې داسې ويره به مونږه کله هم نه وي ليدلې، بيا صرف په دې

بس نه دي...!! ❁ دا ټول غمونه به راباندې لا تيرېږي ❁ نوي کور ته چې راغلي يو نو لا لږ وخت به مو پکښې تير کړے هم نه وي او د دې تنهايئ سره به لا عادت شوي هم نه يو ❁ د رُوح وتلو په تکليف کښې به مو لا کمے هم نه وي راغلے چې ناڅاپه به د قبر ديوالونه اوخوزي، دوه فرښتې به د قبر ديوالونه اوشلوي او قبر ته به را اورسي او په سخته لهجه کښې به زمونږ نه پوښتنې شروع کړي، آه! که چرې مونږه د دغه سوالونو صحيح جوابونه ورنکړے شو، هئ! هئ! که چرې مونږه د قبر په امتحان کښې کامياب نشو نو زمونږ په قبر کښې به د دوزخ اور بَل کړے شي، عذاب به راباندې مسلط کړے شي، آه! زمونږه به څه کيږي؟ چرته به ځو؟ [که الله او رسول ناراضه شول نو] چا ته به د مدد د پاره چغې وهو؟

دِلا غافِل نہ ہو یک دَم یہ دنیا چھوڑ جانا ہے　　بغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے
تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا　　زمیں کی خاک پر سونا ہے اِینٹوں کا سِرہانا ہے

## د قبر د عذابونو خطرناک منظرونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قبر معامله ډيره ګرانه ده، خوش قسمته دي هغه خلق کوم چې په قبر کښې په سکون سره وي او څوک چې د قبر په عذاب کښې اخته کړے شو، هغه ډير په نقصان کښې دے. په قبر کښې به څومره سخت عذابونه وي، راځئ چې د عبرت د پاره يو څو روايتونه واورو:

## د ګناهونو د عذابونو نقشه

د مسلمانانو څلورم خليفه امیرُ الْمؤمنين حضرت سَيِّدُنا علیُّ الْمُرتَضٰی رضی اللہ عنہ بيانوي چې حضور نبي کريم صلی اللہ علیہ والہ وسلم يوه ورځ د سحر د نمونځ جَمعه ورکړه او زمونږ په لور متوجه شو او ارشاد يې اوفرمائيلو: د شپې ما ته دوه فرښتې حاضرې شوې

او زه يــې د آسمان په لور بوتلم ❀ ما يوه فرښته اوليدله، د چا په لاس کښې چې يوه غټه ګټه وه او د هغه مخې ته يو انسان وو فرښتې به هغه ګټه د هغه سر ته راچوله د کومې سره چې به يــې دماغ راوتل او يو طرف ته به بهيدل او ګټه به بل اړخ ته ورغړيدله، ما پوښتنه اوکړه: دا څوک دے؟ فرښتو اووئيل: وړاندې تشريف يوسئ. ❀ وړاندې مې هُم يوه فرښته اوليده کومې چې خپلې مخې ته د پروت انسان کله ښے او کله ګڅ وښکے د اوسپنې په سيخ شلولو او تر غوږونو پورې به يــې رسولو، ما اووئيل: دا څوک دے؟ فرښتې اووئيل: وړاندې تشريف يوسئ. ❀ زه چې وړاندې لاړم نو د وينې يوه وَله مې اوليدله کومه چې د ګټوئ په شان خوټکيدله، په هغې کښې بربنډ [يعني لَغړ] خلق وو او د وَلې په غاړو باندې فرښتې د خاورو لوټو په لاس موجودې وې څوک چې به هم د وَلې نه بهر وتلو هغه به يــې په لوټه ويشتو په کومې چې به هغه بيرته وَلې ته غورځيدلو تر دې چې د هغې بيخ ته به رسيدو، ما پوښتنه اوکړه: دا کوم خلق دي؟ فرښتو اووئيل: وړاندې لاړ شئ. ❀ زه وړاندې لاړم نو ما يو کور اوليدو د کوم لاندينۍ حصه چې د بره حصې نه ډيره تنګه وه، په دې کښې هُم بربنډ خلق وو په کومو پسې چې لاندې وور بليدو او دومره سخا بوئي ترينه راتللو چې ما د هغې نه د بچ کيدو د پاره خپله پوزه اونيوله او پوښتنه مې اوکړه: دا څوک دي؟ فرښتو اووئيل: وړاندې تشريف يوسئ. ❀وړاندې چې لاړم نو اومې کتل چې په يو تور خَټ باندې ليوني خلق دي او د هغوئي شاته ځائے کښې وور پوکلے کيږي کوم چې د هغوئي په خُلو، د پوزې په سورو، په سترګو او غوږونو ووځي، ما پوښتنه اوکړه: دا کوم خلق دي؟ ما ته اووئيلے شو: وړاندې لاړ شئ. ❀ زه چې وړاندې لاړم نو د وور نه ډکه زمکه کښې دننه مې يوه قيد خانه اوليده په کومې چې يوه فرښته مقرره وه، د هغه وور نه چې به څوک هم راوتو نو فرښته به ورپسې کيدله تر دې پورې چې هغه به يــې بيرته هغه ځائے ته غورځولو، ما پوښتتنه اوکړه: دا کوم خلق دي؟

آخر ما ته اووئيلے شو چې هغه (وړومبے) ګس د چا سر چې چقولے کيدو چې دماغ به يې يو خوا او ګټه به بل خوا ارغړيدله، دے هغه دے چا چې به د ماسخُتن نـمونځ نه کولو او نور نـمونځونه به يې ناوخته کول، دے به دوزخ ته د غورځولو پورې هم داسې وهلے شي او هغه (دويم ګس) د کوم وښکي چې د اوسپنې په سيخ شلولے کيدل دا د هغه خلقو عذاب دے کومو به چې په مسلمانانو کښې فساد خپرولو او چغل خوري به يې کوله، دوئي ته به هُم دا عذاب مسلسل ورکولے کيږي تر دې پورې چې دوزخ ته به اوغورځولے شي او هغه (بل منظر چرته چې تاسو بربنډ خلق اوليدل) بربنډ خلق بدکاران وو او کوم سخا بوئي چې ترينه راتللو هغه د هغوئي د مخصوصو اندامونو وو، دوئي ته به هم دوزخ ته د تلو پورې دا عذاب ورکولے شي او (په يو بل منظر کښې) چې کوم ليوني ګسان تاسو اوليدل هغوئي د قومِ لُوط په شان ګنده کار [بچپله] کوونکي او په نورو کوونکي وو، هغوئي به هم دوزخ ته د غورځولو پورې په دې عذاب کښې اخته وي او (په هغه بل ځائے کښې هغه) د وور نه ډکه په زمکه کښې دننه قيد خانه دوزخ وو. (1)

## دردناک عذابونه

د حضرت ابو سعيد خُدري رضی اللہ عنہ نه روايت دے، حضور نبي اکرم نُورِ مُجَسَّم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ❖زه د يو داسې دسترخوان په خوا راتيريدلم په کوم چې ورِيته کړے شوې غوښه وه خو هلته څوک هُم نه وو او مخامخ په بَل دسترخوان باندې سخا شوې بدبوداره غوښه وه کومه چې ډيرو خلقو خوړله، ما پوښتنه اوکړه: اے جبريل دا کوم خلق دي؟ هغوئي اووئيل دا ستاسو د اُمت هغه خلق دي کومو به چې حلال پريښودل او په حرامو پسې به وړاندې کيدل. ❖بيا زه وړاندې لاړم نو داسې

---

1...تاريخِ دِمشق، جلد:19، صفحه:451.

خلق مې اوليدل د کومو خيټې چې د کوټنو په شان غټې وې، په هغوئي کښې چې به چا د اودريدو کوشش کولو نو پرمخې به راپريوتو او وئيل به يې: اے زما **رَبَّه!** قيامت مه راولې. دا خلق د آل فرعون په لارو کښې پراته وو، چې کله به هم د فرعونيانو ډله تيريدله نو دوئي به يې د ښپو لاندې کول او تلل به. ما په بارګاهِ الٰهی کښې د دوئي چغې او سورې واوريدې نو د حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام نه مې پوښتنه اوکړه: دا کوم خلق دي؟ اوئې وئيل: دا ستاسو د اُمَّت سود خواره دي. ❖بيا چې لږ وړاندې لاړم نو داسې خلق مې اوليدل د کومو شونډې چې د اوښانو د شونډکانو په شان وې او د هغوئي خُلې به برسيره کولے شوې او په هغوئي به سکورټې خوړلے شوې، ما پوښتنه اوکړه: دا څوک دي؟ هغوئي اووئيل: دا ستاسو د اُمَّت هغه خلق دي کومو چې به په ناحقه د يتيمانانو مال خوړلو. ❖بيا چې وړاندې لاړم نو څه داسې زنانه مې اوليدلې کومې چې د خپلو سينو نه رازوړندې وې، زما په پوښتنه حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام اووئيل چې دا زناکارې زنانه دي. ❖بيا چې وړاندې لاړم نو څه داسې خلق مې اوليدل د کومو د ډډو نه به چې غوښه کټ کولے شوه او په هغوئي به خوړلے شوه او وئيلے به شول: اوخورئ لکه څنګه چې به مو د خپل ورور غوښه خوړله. ما د هغوئي په باره کښې پوښتنه اوکړه نو حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام اووئيل: **دا غيبت کوونکي، عيب لګوونکي دي.** [1]

## د حرامو ليدلو او اوريدو عذاب

د حضرت ابو اُمامَه رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې يوه ورځ د سحر د نمانځه نه پس سرکارِ نامدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ما يو خوب ليدلے دے او هغه حق دے لهٰذا په دې په ښه طريقه ځان پوهه کړئ. يو راتلونکے راغے او

---

1...دلائل النبوة، باب الدليل على ان النبى عرج به الاسماء...الخ، جلد:2، صفحه:390-393 ملتقطًا.

زما لاس يې اونيولو او د يو لوئي غر خوا له يې بوتلم او اوئې وئيل: دې ته اوخيژئ. ما اووئيل زه به دې ته اونه ختلے شم. هغه اووئيل: زه ستاسو ملاتړ کووم، ما خَتل شروع کړل، ما به چې کله هم قدم پورته کولو يوه درجه به طے کيدله تر دې چې مونږ د غر سر ته اورسيدو، ❖بيا چې مونږ وړاندې لاړو نو څه نارينه او زنانه مو اوليدلې د کومو وښکې چې شليدلي وو، زما په پوښتنه هغه اووئيل: دا هغه خلق دي کومو چې به داسې خبرې کولې په کومو باندې چې به يې پخپله عمل نه کولو. مونږ نور وړاندې لاړو نو داسې نارينه او زنانه مو اوليدلې د کومو په سترګو او غوږونو چې ميخونه ټک وهلے شوي وو، زما په پوښتنه اووئيلے شول چې د دوئي سترګو به هغه څه ليدل څه چې ليدل نه دي پکار او غوږونو به يې هغه اوريدل څه چې نه دي اوريدل پکار. ❖بيا چې لږ وړاندې لاړو نو داسې زنانه مو اوليدلې کومې چې د پوندو د پټو نه تړلے شوې وې او اُلټا رازوړندې کړے شوې وې او مارانو د هغوئي سينو له ټکونه ورکول، اووئيلے شو چې دوئي به خپلو بچو له پئ نه ورکول. ❖چې لږ نور وړاندې لاړو نو نارينه او زنانه مو رازوړند شوي اوليدل کومو چې لړې خو ګرمې اوبه يې څټلې، زما په پوښتنه زما سره [روان ملګري] اووئيل دوئي به روژه نيوله او د وخت نه مخکښې به يې ماتوله. بيا چې وړاندې لاړو نو داسې زنانه او نارينه مو اوليدل کوم چې ډير بدرنګه، سخا جامو والا او بدبودار وو، داسې لګيده لکه چې د حيض والؤ بدبو ده. زما په پوښتنه اووئيلے شول چې دا زناکار نارينه او زنا کارې زنانه دي. ❖بيا د څه ډيرو زياتو پړسيدلو او ډيرو بدبودارو مړو په خوا راتير شو، پوښتنه مې اوکړه: دا څوک دي؟ اوئې وئيل: دا کافران مړي دي. (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دې روايتونو ته لږ د عبرت په نظر اوګورئ!

---

1... معجم کبير، جلد:4، صفحه:285، حديث:7563.

خومره وحشتناک منظرونه دي، چرته هغه ګس دے د چا سر چې په ګټه چقولے کيږي ❁ د چا وَښکي د اوسپنې په سيخ شلولے کيږي ❁ بعضې خلقو له د ګټوئ په شان د خوټکيدلو اوبو په وَله کښې غوپې ورکولے شي ❁ د چا په بدن کښې وور پوکلے شي ❁په چا سخا شوې، بدبوداره غوښه خوړلے شي ❁ په چا سکروټې خوړلے کيږي ❁بعضې داسې دي چې د هغوئي د ډېرو نه غوښه کټ کولے کيږي او هُم په هغوئي خوړلے کيږي. آيا داسې عذابونه به مونږ برداشت کړے شو...!! آه! په چا کښې همت دے، څوک داسې توان لري...!! خو افسوس! ❁ مونږ نه سميږو ❁ مونږه نه ويريږو ❁چې د ګناه او د نافرمانئ خبره وي ❁ د عيش او عشرت او د فضولو کارونو خبره وي نو نن او هم اوس تيار يو خو که د توبې خبره راشي نو د لم ليټ نه کار اخلو. کاش چې زمونږه د **الله** پاک نه ويره نصيب شي، کاش چې د قبر او د آخرت فِکر مو نصيب شي.

| | |
|---|---|
| ياخدا ميری مغفرت فرما | باغِ فِردوس مَرحَمت فرما |
| تُو گناہوں کو کر مُعاف الله! | میری مقبول معذِرت فرما |
| مصطفٰے کا وسیلہ توبہ پر | تُو عنایت مُداوَمت فرما |

## قبر به د جنّت باغ يا د دوزخ کنده وي

د حضرت ابو سعيد خُدري رضی اللہ عنہ نه روايت دے، خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: د خوندونو ختموونکے مرګ ډير يادوئ ځکه چې قبر هره ورځ آواز کوي او وائي: ❁ زه د نا اشنايئ کور يم ❁ زه د تنهايئ کور يم ❁ زه د خاورو کور يم ❁ او زه د چينجو [يعني مارانو لړمانو] کور يم. **چې کله مؤمِن په قبر کښې ښخ کړے شي نو قبر هغه ته وائي:** هر کلے [مرحبا] تهٔ زما په شا باندې په ګرځيدونکو کښې زما ډير خوښ وې او اوس تهٔ ما ته دننه راغلې اوس تهٔ زما ښه سلوک ته اوګوره، بيا قبر د هغه د پاره د نظر تر حده پورې فراخه شي او د هغه د پاره د جنّت دروازه برسيره کړے

شي او چې کله **څوک ګنهګار يا کافر ګس ښخ کړے شي نو قبر وائي**: تا ته هيڅ هر کلے [مرحبا] نه ده، تۀ زما په شا باندې په ګرځيدونکو کښې زما په نزد د ټولو نه بد ګس وې او اوس تۀ ما ته دننه راغلے يې ځکه اوس د ځان سره زما سلوک اوګوره بيا قبر په هغه باندې راتنګ شي او د هغه پوښتۍ په يوه بَله کښې دننه شي. بيا يې اوفرمائيل: **اللّٰه** پاک په هغه باندې 70 زره اژدهاګانې [ښاماران] مقرر کړي که چرې د هغې نه يو هم په زمکه اوپرشيږي نو د دنيا تر آخره پورې به [په زمکه] چرې هم څه څيز [يعنې شين بوټے] را اونه ټوکيږي، هغه اژدهاګانې به مړي له تر قيامته پورې ټکونه ورکوي. راوي وائي: هغوئي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ اَوْحُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرِ النَّار يعنې قبر د جنّت د باغونو نه يو باغ دے يا د دوزخ د کندو نه يوه کنده ده. [(1)]

## په پټه د ګناه کولو عذاب

حضرت عبد اللّٰه بن زيد رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: زه د سپوږمۍ [يعنې قمري مياشتې] په وړومبو شپو کښې د هديرې په خوا تيريدم نو ما يو ګَس د قبر نه په راوتو اوليدو او هغه زنځير راښکلو بيا ما اوليدل چې يو بَل ګس هغه زنځير نيولے دے هغه دويم [ګَس] بهر وتونکے ګس خپل طرف ته راښکو او هغه يې قبر ته واپس کړو، بيا ما هغه د هغه مړي په وهلو اوليدو او مړي وئيل: آيا ما به نمونځ نه کولو؟ آيا ما به د جنابت نه غُسل نه کولو؟ آيا ما به روژې نه نيولې؟ نو هغه وهونکي جواب ورکړو: آؤ! ولې نۀ (تا به واقعي چې دا کارونه کول) **خو چې تا به کله په تنهايۍ کښې ګناه کوله نو هغه وخت به د اللّٰه پاک نه نۀ ويريدلې.** [(2)]

هم دغه شان يوه بَله واقعه حضرت ابراهيم تيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم بيان کړې ده، هغوئي

---

1... ترمذی، کتاب صفة القيامة، صفحه:584، حديث:2460۔

2... الزواجر، مقدمه، جلد:1، صفحه:30۔

فرمائي: زه به د مرګ او (د مرګ نه پس د هډوکو د) وراسته کيدو يادولو د پاره په کثرت سره هديرې ته تلم راتلم، يوه ورځ زه په هديره کښې ووم چې په ما باندې خوب غلبه اوکړه او زه اوده شوم نو ما په خوب کښې يو پرانستے قبر اوليدو او د يو ګس نه مې دا واوريدل: دا زنځير اونيسه او د ده خُلې ته يې وردننه کړه او د ده په شرم ګاه يې اُوباسه! هغه مړي اووئيل: يا **رَب** عَزَّوَجَلَّ! آيا ما به قرآن نه لوستلو؟ آيا ما به ستا د حُرمت والا کور حج نه کولو؟ بيا هغه هم داسې په يوې پسې بَله خپله نيکي وئيله نو ما د يو ګس نه دا واوريدل: **تا به د خلقو په مخکښې دا اعمال کول خو چې کله به تۀ يواځې شوې نو د نافرمانو په ذريعه به دې زما سره د جنګ اعلان کولو او زما نه به نه ويريدلې.** [1]

اَللّٰهُ اَكْبَر! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تصور اوکړئ! څوک به داسې وي چې دومره خطرناک عذاب برداشت کړے شي...!! يقيناً په هيڅا کښې هم دومره همت نشته خو افسوس! مونږه نه ويريږو، په غفلت کښې اخته يو، سستي کوو، د خلقو نه که اوشرميږو او ګناه پريږدو، د بدو کارونو نه ځان اوساتو خو په تنهايئ کښې هغه ګناهونه کوو چې اَلْاَمَان وَالْحَفِيظ...!!

## ګناه آخر ګناه ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! ګناه که پټه اوکړے شي او که د خلقو په مخکښې اوکړے شي، ګناه خو آخر ګناه ده. او **الله** پاک په خپله نافرمانئ کوونکو بندګانو سخت غضب نازلوي. **غور اوکړئ!** دا هغه خلق وو کوم چې ظاهري طور نيکان وو خو په پټه به يې ګناهونه کول او يو مونږ يو چې ښکاره ګناهونه کوو او لږ شرم هم نه راځي، زمونږ به څه کيږي؟ آه! لږ سوچ خو اوکړئ! که داسې په ګناهونو دپاسه ګناهونو کښې قبر ته کوز شو او په مونږ باندې عذاب مسلط کړے شو نو مونږ به څه کوو؟ که

1...الزواجر، مقدمه، جلد:1، صفحه:30.

مارانو لړمانانو زمونږه کفن اوشلولو او زمونږه بدن يــې قبضه کړو نو چرته به ځو؟ که د قبر ديوالونه راباندې رايو ځائے شي او زمونږه پوښتئ ماتې شي او په يو بَل کښې ورننوځي نو څومره سخت تڪليف به وي؟ د يو کاڼي درد خو برداشت کولے نشو که فرښتو په ګورزونو وهل شروع کړو نو د دې نازکو هډوکو به څه کيږي؟

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہ فرمائي: اے ګنهګاره! تهٔ د ګناه د بد انجام نه ولې بے ويرې يــې؟ حالانڪه د ګناه په طلب کښې اوسيدل د ګناه نه هم غټه ګناه ده، ❁ ستا د ښي او ګڅ طرف فرښتو نه حيا نه کول او په ګناه باندې قائم اوسيدل هم غټه ګناه ده يعني د توبې کولو نه بغير ستا په ګناه باندې قائم پاتې کيدل د دې نه هم غټه ګناه ده، ❁ ستا په ګناه کولو باندې د خوشحالئ نه په زوره خاندل د دې نه هم غټه ګناه ده حالانڪه تا ته معلومه نه ده چې **الله** پاک به ستا سره څه سلوک کوي؟ ❁ستا په ګناه کښې په ناکامه کيدو باندې غمژن کيدل د دې نه هم غټه ګناه ده. د ګناه کولو په وخت چې د تيزې سيلئ سره د دروازې پرده اوچته شي نو تهٔ ويريږې **خو د الله پاک د هغه نظر نه نهٔ ويريږې کوم چې هغه په تا باندې ساتي ستا دا عمل د دې نه هم غټه ګناه ده.** [1]

کب گناہوں سے کَنارا میں کروں گا یاربّ!

نیک کب اے مِرے **اللہ** !بنوں گا یاربّ!

کب گناہوں کے مَرض سے میں شفا پاؤں گا

کب میں بیمار مدینے کا بنوں گا یاربّ![2]

---

1...الزواجر، مقدمہ، جلد:1، صفحہ:26۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:84۔

## نن د عمل وخت دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اوس لا مونږ ژوندي يو، نن زمونږ سره وخت دے، مونږه په توبه کولو د تيرو ګناهونو د معافئ ذريعه جوړولے شو، نيک کار کولے شو او د قبر روښانه کولو انتظام کولے شو، که زمونږ د ساه اخستو دا لړئ ختمه شوه، رُوح مو د بدن نه ويستلے شو نو د پښيمانتيا نه بغير به هيڅ په لاس رانشي. وائي چې: يو مړے چا په خوب کښې اوليدو، هغه اووئيل: مَاعِنْدَكُمْ اَكْثَرُمِنَ الْغَفْلَةِ وَمَاعِنْدَنَا اَكْثَرُمِنَ الْحَسْرَةِ يعنې تاسو ژوندي خلق په ډير غفلت کښې يئ او مونږ چې قبر ته راکوز شوي يو، مونږه ډير پښيمانه يو. (1)

## د انسان دوه کورونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې نه مخکښې چې د دې پښيمانتيا او شرمندګئ وخت په مونږ باندې راشي، مونږ له پکار دي چې د قبر او آخرت په تيارئ کښې مشغول شو. حضرت عبد الله بن عِيزار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د انسان دوه کورونه دي: (1): يو هغه کور کوم چې د زمکې د پاسه دے (2): بَل هغه کور کوم چې په زمکه کښې دننه دے. انسان د زمکې د پاسه د کور ښکلي کولو سينګارولو کښې مشغول اوسي، په دې کښې د ګرمئ يخنئ نه د بچ کيدو انتظام کوي خو په دې فِکر کښې د زمکې دننه کور خراب کړي، بيا چې هغه له راتلونکے راشي (يعنې د هغه د مرګ وخت راشي)، هغه ته وئيلے شي: لږ اووايه چې دا کور کوم چې تا ښه ښکلے سينګار کړو، په دې کښې به څومره موده اوسيږې؟ بنده وائي: ما ته پته نشته...!! بيا وئيلے کيږي: او کوم کور چې تا خراب کړے دے (يعنې قبر) په هغې کښې به څومره موده اوسيدل وي، بنده وائي: هُم هغه خو [د اوسيدو] اَصلي ځائے دے. **بيا وئيلے کيږي: تۀ د دې خبرې اقرار هم کوې (بيا هم**

---

1... اهوال القبور، الباب السادس فی ذکر عذاب...الخ، فصل ماجاء فی الکشف...الخ، صفحہ:68۔

تا د قبر د پاره هیڅ اونکړل) آیا تهٔ عقل مند یې...!! [1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** حقیقت هم دا دے، مونږ به په دې دُنیا کښې څومره موده یو، مونږ ته پته نشته، زر، ډیر زر به مونږ تیارهٔ قبر ته کوز کړے شو، بیا به په هغه ځائے کښې مونږ ته تر قیامته پورې اوسیدل وي، عقلمند هغه دے څوک چې په دې دنیا کښې د قبر تیاري کوي، **څوک چې دا نه کوي بلکې د دنیا په رنګینو کښې ورَک وي، هغه ډیر بدقسمته دے، ډیر زر به هغه د سختو مشکلاتو سره مخ شي.**

بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتبار | تُو اچانک موت کا ہوگا شکار
موت آکر ہی رہے گی یاد رکھ! | جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ!
گر جہاں میں سو برس تُوجی بھی لے | قبر میں تنہا قِیامت تک رہے
جب فِرِشتہ موت کا چھا جائے گا | پھر بچا کوئی نہ تجھ کو پائے گا
کر لے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

## قبر روښانه کوونکي کارونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په مونږ باندې لازم دي چې قبر روښانه کوونکي کارونه اوکړو او په قبر کښې د عذاب سبب جوړیدونکو کارونو نه ځان اوساتو. مثلاً ❀ د قبر روښانه کولو د پاره د تولو نه وړومبے څیز عقیده ده. ❀ د **الله** پاک په باره کښې ❀ د هغه د رسولانو په باره کښې ❀ د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو په باره کښې ❀ د اولیائے کرامو په باره کښې زمونږه عقیده بالکل صحیح او د قرآن او سُنَّت مطابق پکار ده ❀ د دې سره سره چې مونږه نیک کارونه هم کوو ❀ پینځه واړه نـمونځونه په وخت باندې، په جومات کښې د جَمعې سره د ادا کولو عادت جوړ کړو ❀ څومره چې هم

1..اھوال القبور، الباب الثالث عشر فی ذکر کلمات...الخ، صفحہ:244۔

فرائض او واجبات دي، چې په هغې باندې عمل کوو ❀ که زکوٰة راباندې فرض وي نو ادا کوو يې ❀ چې روژې نيسو ❀ چې د خلقو سره ښه سلوک کوو ❀ چې د قرآنِ کريم تلاوت په کثرت سره کوو ❀ چې درودِ پاک په کثرت سره لولو ❀ چې ذِكرُ الله په کثرت سره کوو. د دې نه علاوه هم چې کوم نيک کارونه دي، چې په هغې کښې زړه لګوو، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د قبر د عذاب نه به [زمونږ د پاره دا] د نجات ذريعه جوړه شي.

## صدقه قبر روښانه کوي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قبر تيارۀ په رڼا کښې او د قبر ويره په اطمينان او سکون کښې د بدلولو يو نيک عمل د الله پاک په لاره کښې صدقه کول هم دي. د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: اِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَلٰى اَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُوْر بے شکه صدقه کوونکي، صدقه د قبر د ګرمۍ نه بچ کوي وَاِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ ظِلِّ صَدَقَتِهٖ يعنې بے شکه مسلمان به د قيامت په ورځ د خپلې صدقې په سورې کښې وي. [1]

لهٰذا د صدقې کولو عادت جوړول پکار دي. د صدقې کولو ډير زيات فضيلتونه دي: ❀صدقه د بدو 70 دروازې بندوي ❀ صدقه ورکوونکے به د قيامت په ورځ د خپلې صدقې په سورې کښې وي ❀ صدقه د قبر د ګرمۍ نه بچ کول کوي ❀صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چې اوبه وور مړ کوي ❀ صدقه آفتونه، بلاګانې [يعنې مصيبتونه] منع کوي ❀ صدقه عمر زياتوي ❀ صدقه د بد مرګ او بدې خاتمې نه بچ کول کوي ❀ صدقه د الله پاک غضب ختموي ❀ صدقه په رزق کښې د فراختيا او د مال د زياتوالې سبب جوړيږي ❀ صدقه غريبي او ناچاري ختموي [2] الغرض! صدقه د

---

1...شُعَبُ الایمان، جلد:3، صفحہ:212، حدیث:3347-

2...صدقے کا انعام، صفحہ:17 تا 19 ملتقطًا-

ډېرو خیرونو دروازې برسیره کوي او د ډېرو بدو دروازې بندوي. ځکه مونږ له ډېره ډېره صدقه او خیراتونه کول او د خپل قبر او د آخرت د بهترئ ذریعه جوړول پکار ده.

## د عطیاتو ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي په ټوله دنیا کښې د نیکئ دعوت عام کوونکے دیني تحریک دے. د الله پاک په فضل سره ❁ دعوتِ اِسلامي د اتیاؤ [80] نه زیاتو شعبو کښې دیني فریضې ترسره کوي ❁ دعوتِ اِسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جوماتونه، په سوونو فیضانِ مدینه (مَدَني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ماشومانو هلکانو او ماشومو جینکو ***(Boys & Girls)*** ته د قرآنِ پاک بیل بیل تعلیم ورکولو د پاره تر اوسه پورې تقریباً 12 زره 699 مدرسة الـمدینه جوړې کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقریباً 3 لاکه 73 زره 729 ماشومانو هلکانو او ماشومو جینکو ته د قرآنِ کریم د حفظ او ناظرې مفت تعلیم ورکولے شي. (نوټ: په دې رپورټ کښې مدرَسَةُ الْمَدینه شارټ ټائم مدارس هُم شاملې دي) ❁ د عِلم خپرولو (د عالِم او عا لِـمې کورس کولو) د پاره بیلې بیلې جامعة الـمدینه جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقریباً 1500 جامعة الـمدینه (د هلکانو او جینکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، په کومو کښې چې تقریباً 1 لاکھ24 زره جینکو او هلکانو طالب علمانو ته د درسِ نظامي (د عالِم او عالِـمې کورس) مفت تعلیم ورکولے شي. اوسه پورې تقریباً 31 زره او 211 عالِم او عالِـمه کورس مکمل کړے دے ❁ د شرعي رهنمائي د پاره په پاکستان کښې تر اوسه پورې 17 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت قائمې کړے شوي دي، چرته چې مفتیانِ کرام د اُمَّت په شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي په دې کښې سالانه اوسطاً تقریباً د 1 لاکھ70 زره سوالونو جوابونه (په مختلف انداز کښې مثلًا مخامخ، د فون په ذریعه، د واټس ایپ او اي میل وغیرها په ذریعه) ورکولے شي. او ❁ په الـمدینةُ العلمیه کښې په مختلفو موضوعاتو باندې 932 دیني کتابونه چاپ کړے شوي دي او دا سلسله لا روانه ده

❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه مَدَني چينل په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې په سيټيلائټ باندې او په ويب باندې عربي چينل هُم د دين په خدمت کښې مصروف دي.

**تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، ديني، اصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې په کارونو کښې لګيدے شي.**

**اللّٰه** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ مَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ لِلّٰهِ مِیْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ (پاره: 27، سورۂ حديد: 10)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او په تاسو څه شوي چې تاسو د **اللّٰه** په لاره کښې [مال] خرچ نه کړئ حالانکه د آسمانونو او زمکې ټولو وارِث هُم **اللّٰه** دے.

د دې آيت لاندې په تفسير صراط الـجنان کښې دي: تاسو په کومه وجه باندې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې نه خرچ کوئ حالانکه د آسمانونو او د زمکې هر څه مالک **اللّٰه** پاک دے هغه هميشه پاتې کيدونکے دے خو تاسو به مړه شئ او ستاسو مال به د هغه په ملکيت کښې پاتې شي او تاسو ته به د نه لګولو په شکل کښې ثواب هم نه ميلاويږي، ستاسو د پاره بهتره دا ده چې تاسو خپل مال د **اللّٰه** پاک په لاره کښې اولګوئ د پاره د دې چې د دې په بدله کښې ثواب بيامومئ. (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رمضان د روژو فضيلتونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت بيا راتلونکې ده، د نيکو د سپرلي موسم راروان دے. راځئ چې د ترغيب د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو او اعتکاف يو څو فضيلتونه واورو: د مختلفو روايتونو مطابق ❁ د روژه نيوونکي اوده کيدل

---

1… تفسير صراط الجنان، پاره:27، سورۂ حديد، زير آيت:10، جلد:9، صفحه:721۔

عبادت دے ❁ د روژه نیوونکي دُعا او عمل مقبول وي ❁ د روژه نیوونکي د پاره فرښتې د نمر پرېوتو پورې دُعا کوي ❁ د روژه نیوونکي د پاره د آسمان دروازې برسېره کولے شي ❁ په روژه نیوونکي باندې به **الله** پاک جنّتي مېوې خوري ❁ په روژه نیوونکي به **الله** پاک جنّتي شراب څښبي ❁ د روژه نیوونکي د پاره به د قیامت په ورځ د سرو زرو دسترخوان غوړولے شي ❁ د روژه نیوونکي روژه به د تېرو ګناهونو کفاره جوړه شي ❁ د روژه نیوونکي مخ به **الله** پاک د دوزخ نه د 70 کاله په فاصله لرې کړي. (1)

کوم نادانه چې د څه شرعي مجبورۍ نه بغیر د رمضان روژې پرېږدي هغه ډېر ګنهګار او د وور د عذاب حقدار دے. د روایتونو مطابق څوک چې د شرعي مجبورۍ نه بغیر د رَمَضَانُ المُبَارَك یوه روژه ضائع کړي نو بیا که ټول عمر روژې اونیسي، نو بیا هم د هغه پرېښودلے شوې یوې روژې فضیلت نشي موندلے. (2)

**الله** پاک دې د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسیله مونږه د خپل قهر او غضب نه اوساتي او د زړهٔ د خوشحالۍ سره دې د رَمَضَانُ المُبَارَك د میاشتې د ټولو روژو په ذوق او شوق سره د نیولو توفیق رانصیب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د اعتکاف یو څو فضیلتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي په دیني ماحول کښې په ټوله دنیا کښې په زرګاؤ ځایونو کښې اجتماعي اعتکاف کولے شي، **اعتکاف** د ګناهونو نه د بچ کېدو او د رَمَضَانُ المُبَارَك میاشت په نېکو کښې د تېرولو بهترینه ذریعه ده، د اوس نه د روژې په ټوله میاشت کښې یا کم نه کم په آخرۍ عشره کښې په اجتماعي اعتکاف

---

[1] ...فیضانِ رمضان، صفحہ:84 تا86ماخوذاً۔

[2] ...فیضانِ رمضان، صفحہ:88 تا89ماخوذاً۔

کښې د شرکت کولو نیت اوکړئ! ✿ د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې د **الله** پاک د رضا او خوشحالولو د پاره د یوې ورځې اعتکاف اوکړي **الله** پاک به د هغه او د دوزخ په مینځ کښې 3 خندقونه حائل کړي، د هر خندق فاصله د مشرق او مغرب د فاصلې نه هم زیاته ده. [1] ✿ د **اُمُّ الْمُؤْمِنِين** حضرت سیدتنا عائشه صدیقه طیبه، طاهره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دے: مَنِ اعْتَكَفَ اِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ یعنې چا چې د ایمان سره او د ثواب حاصلولو په نیت اعتکاف اوکړو د هغه تیر ګناهونه به اوبخښلے شي. [2] ✿ په یو **حدیثِ پاک** کښې یې فرمائیلي دي: چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې 10 ورځې اعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې 2 حجونه او 2 عمرې اوکړي. [3]

په پاکستان کښې به دا کال اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم په 26 مقاماتو کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پوره میاشتې اعتکاف کیږي. د خپل ښار د ذِمّه دارانو نه د دې معلومات واخلئ او د اوس نه د اعتکاف فارم جمع کړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: درس

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په زړه کښې د مدینے د عشق زیاتولو، د مدینے یادولو، د مدینے د ذِکر کولو، د ګناهونو او فضولیاتو نه د بچ کیدو، د ښه، بامقصده، د سنتو او نیکو والا ژوند تیرولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او په 12 دیني کارونو کښې هم ښه په شوق سره

---

[1]...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب: فی الاعتکاف، جلد: 3، صفحہ: 425، حدیث: 3965-

[2]...جَامِعِ صغیر، صفحہ: 516، حدیث: 8480-

[3]...جَامِعِ صغیر، صفحہ: 516، حدیث: 8479-

برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په دنيا او آخرت كښې به بے شميره بركتونه درنصيب شي. د دعوتِ اسلامي په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: **درس** هم دے.

❀ عِلمِ دِين زده كول د مصطفٰے كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنت دے: ❀ زمونږ خوږ نبي، مكي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به عِلمِ دِين ښودلو او ❀ صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به زده كولو [1]

❀ د لويو لويو اوليائے كرامو او د اُمت د علمائے كرامو هم دغه معمول دے.

❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې نيک كار كولو سعادت حاصلوي ❀ په خپلو خپلو كورونو كښې، په جماتونو كښې، په بازارونو او چوكونو وغيره كښې درس وركوي او ثوابونه گټي ❀ تاسو هم په دې كښې شركت كوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ❀ د عِلمِ دِين زده كولو موقع به درنصيب كيږي ❀ په نيک صحبت كښې به پاتې كيدل درنصيب كيږي ❀ كه د كور نه په درس كښې د شركت كولو په نيت سره روان شئ نو د عِلمِ دِين په لاره كښې د تللو ثواب به درته ميلاويږي ❀ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! مخلوقات تر دې پورې چې په درياب كښې مهيان [كبان] به هم ستاسو د پاره دعاگانې كوي او څه پته چې د درس كومه خبره زمونږ په زړه باندې اثر اوكړي او په ژوند كښې مو انقلاب راولي.

## د هوټل ښكلا جوړيدونكے ځلمے

د حيدر آباد، سندھ اوسيدونكے يو اسلامي ورور خپله واقعه څه داسې بيانوي: زه په گناهونو كښې داسې اخته ووم چې زما سره د خپل ژوند د قيمتي وختونو د بربادېدو هډو فِكر نه وو، د معمول مطابق هُغه ورځ هم زه په هوټل كښې موجود ووم او په ټي وي كښې چليدونكو فلمي نظارو كښې ورک ووم چې په دې كښې د سنتو مطابق جامې اغوستې يو اسلامي ورور زما خوا له راغلے او په گرم جوشئ سره ئې ما

1...مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:239۔

سره د لاس ملاوولو نه پس ماته اووئيل: وررور جانه بهر چوک درس کيږي. تاسو يو څو منټه راکړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډيرې نيکئ به حاصلې کړئ. زه د هغوئي د ښو اخلاقو او عاجزئ نه ډير متاثره شوم او سمدستي ورسره روان شوم. د هوټل نه بهر يو اسلامي وررور د **فيضانِ سنّت** نه درس ورکولو، د نورو اسلامي وروڼو په شان زه هم په درس اوريدو کښې مصروف شوم، درس چې مې واوريدو نو زما په زړه ئې ډير زيات اثر اوکړو، ما د زړه د اخلاصه توبه کړه او د اسلامي وروڼو صحبت مې اختيار کړو، د دې په برکت ماته کله د سنتو په اجتماع کښې د شرکت سعادت، نو کله راته په مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره سفر نصيب کيدلو. په مزه مزه زه ديني ماحول ته نزدې کيدم، آخر د هوټلو ښکلا جوړيدونکے ځلمے د درس په برکت نن اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقان رسول سره په جمات کښې شپې تيرولو والا جوړ شو. [1]

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا مَدنی ماحول | ہے فَیضانِ غوث و رضا مَدنی ماحول |
| سَنور جائے گی آخرت ان شاء الله | تم اپنائے رکھو سدا مَدنی ماحول [2] |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن په نوم د "**فيضانِ حديث**" په ***Play Store*** او ***App Store*** وړاندې کړے شوے دے. په دې ايپلي کيشن کښې د **حديثِ پاک** مشهور کتابونه مثلاً

---

1...میں نے ویڈیو سینٹر کیوں بند کیا، صفحہ:12ملخصًا۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:646ملتقطاً۔

❁ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې آسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ❁ الأَربَعِيْنِ النّوويَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ رِياضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ❁ او مُنْتَخَب اَحَادِيث شامل کړے شوي دي. ❁ د دې ايپلي کيشن په مدد تاسو حديثونه مبارک په کتابي شکل کښې (يعني د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❁ د سرچ آپشن په مرسته پوره کتاب يا په يو حديث کښې مختلف لفظونه او ټوله جُمله او د **حديثِ پاک** د عربئ لفظونه، د هغې ترجمه او په شرح کښې بيل بيل هم لټولے شئ ❁ د **حديثِ پاک** د عربئ متن د اعراب سره او د اعراب نه بغير، په دواړه قِسم د کتلو سهولت کيښودے شوے دے ❁ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❁ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حديثونو د شيئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے.

هم نن په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د **حديثِ پاک** فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مسلمان قبر له تلل سُنّت دي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په شَبِ بَرَاءَت کښې هديرې ته حاضري د مسلمانانو معمول دے، لهٰذا بيان د اختتام په لور بوځو او د هديرې د آدابو بيانولو سعادت حاصلوو. راځئ! ورومبے د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک واورو: د اِبنِ ماجه حديثِ شريف دے: د **الله** پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، فَزُوْرُوهَا فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا، وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ يعني ما تاسو د

قبرونو د زيارت نه منع کړي وئ اوس تاسو د قبرونو زيارت کوئ چې بے شکه قبرونه ليدل د دُنيا نه بے رغبته کول کوي او آخرت رايادوي. [(1)]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ✿ د مسلمان قبر له تلل سُنتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي او د اوليائے کرامو او شهيدانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم مزارونو ته حاضري سعادت دے او دوئي ته ايصالِ ثواب مَندُوب (يعني خوښ) او د ثواب کار دے. [(2)] ✿ په هديره کښې داسې اودريږئ چې قبلې طرف ته شا او د قبرونو والؤ د مخونو طرف ته مو مخ وي، د دې نه پس په حديثِ پاک کښې د بيان کړے شوې طريقې مطابق داسې سلام اوکړئ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَر يعني اے قبر والؤ! په تاسو باندې دې سلام وي، **الله** پاک دې مونږه او تاسو اوبخښي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلئ او مونږ په تاسو پسې وروستو در روان يو. [(3)] ✿ هديرې ته چې داخل شئ نو دا دُعا اولولئ: اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْاَجْسَادِ الْبَالِيَةِ وَالْعِظَامِ النَّخِرَةِ الَّتِیْ خَرَجَتْ مِنَ الدُّنْيَا وَهِیَ بِكَ مُؤْمِنَةٌ اَدْخِلْ عَلَيْهَا رَوْحًا مِّنْ عِنْدِكَ وَسَلَامًا مِّنِّی (ترجمه: اے الله! د خرابيدونکو بدنونو او د وراستو شوو هډوکو رَبَّه! څوک چې د دُنيا نه د ايمان په حالت کښې رخصت شول تهٔ په هغوئي باندې خپل رحمت نازل کړې او هغوئي ته زما سلام اورسوې.) په شَرحُ الصُّدُور کښې دي: څوک چې هديرې ته داخل شي او دا اولولي، نو د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر د دُعا لوستلو وخته پورې چې څومره مسلمانان وفات شوي دي ټول به د دُعا کوونکي د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي. [(4)] ✿ که د قبر په خوا کښې کښيناستل غواړئ نو د قبر والا د مرتبې د لحاظ

---

[1]...ابن ماجه، کتاب جنائز، باب ماجاء فی زیارة القبور، صفحه:252، حدیث:1571۔

[2]...فتاوٰی رضویه، جلد:9، صفحه:532۔

[3]...ترمذی، کتاب: جنائز، صفحه:275حدیث1053۔

[4]...شَرحُ الصُّدُور، الباب الثامن والثلاثون...الخ، صفحه:160۔

ساتلو سره په ادب سره کښېنئ ❀ د قبرونو د زيارت د پاره دا څلور ورځې بهترې دي: ګل، زيارت، جُمعه، خالي [(1)] ❀ د جُمعې په ورځ د سحر د نـمونځ نه پس د قبرونو زيارت افضل دے [(2)] ❀ د شپې هديرې ته يواځې تلل نه دي پکار [(3)] ❀ د برکت والا شپو خصوصاً په شَبِ بَرَاءَت کښې د قبرونو زيارت افضل دے [(4)] ❀ هُم دغه شان د برکت والا ورځو مثلاً وړوکے اختر، غټ اختر، لسم محرم، د ذُ الحِجّه په وړومبو لسو ورځو کښې هُم د قبرونو زيارت افضل دے [(5)] ❀ د قبر د پاسه "**ګر باتئ**" لګول نه دي پکار په دې کښې بے ادبي او بد فالي ده، آؤ که چرې (حاضريدونکو ته) د خوشبو (رسولو) د پاره يـې (لګول غواړئ نو) د قبر سره خوا کښې که خالي ځائے وي نو هلته يـې اولګوئ چې خوشبو رَسَوَل خوښ عمل دے [(6)] ❀ په قبر د پاسه ډيوه يا بَله شمع وغيره مه ږدئ، خو که ستاسو سره "چارجر" ټارچ يا ټارچ والا موبائل فون نه وي، سرکاري رڼاګانې هم نه وي بلې او د شپې په تيارهٔ کښې په لاره د تلونکو يا د قرآنِ کريم د لوستلو د پاره رڼا مقصد وي نو د قبر په خوا کښې په خالي زمکه باندې شمع يا ډيوه کيښودے شئ، خو چې هغه خالي ځائے داسې نه وي چرته چې مخکښې قبر وو او اوس وران شوے وي. [(7)]

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...عالمگیری، کتاب الکراہیۃ، الباب السادس عشر فی زیارۃ القبور...الخ، جلد:5، صفحہ:430۔
[2]...فتاوی رضویہ، جلد:9، صفحہ:523۔
[3]...فتاوی رضویہ، جلد:9، صفحہ:523۔
[4]...عالمگیری، کتاب الکراہیۃ، الباب السادس عشر فی زیارۃ القبور...الخ، جلد:5، صفحہ:430۔
[5]...عالمگیری، کتاب الکراہیۃ، الباب السادس عشر فی زیارۃ القبور...الخ، جلد:5، صفحہ:430۔
[6]...فتاوی رضویہ، جلد:9 صفحہ:525-483 ملخصاً۔
[7]...قبر والوں کی 25 حکایات، صفحہ:47۔